PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت شده که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: بهترین روزه بعد از رمضان ماه محرم خداست و بهترین نماز بعد از فریضه نماز شب است.

(ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۹ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۸ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لیندی ۵ مه د۱۴۳۵ هـ ق د محرم ۲۲ مه د۲۰۱۳ م د نوامبر ۲۲ مه

رییس جمهور برای امضای سند امنیتی با امریکا سه شرط گذاشت

ما امنیت و صلح را سر از امروز میخواهیم: وقتی ما پایگاه میدهیم، امنیت و صلح شرط اول ما است. (کرزی)

کابل، رسانه ها:
حامد کرزی رییس جمهور اعلام کرد "تا هنگامی که صلح تامین نشود، حملات بر خانه های مردم قطع نگردد، و انتخابات در وقت معین آن دایر نشود"، هیچگونه قراردادی با امریکا وجود نخواهد داشت.
لویه جرگه مشورتی، درچهارمین روز کاری خود (۳ قوس)، قطعنامه ۳۱ ماده یی را صادر کرد و طی آن، ازعقد قرارداد امنیتی حمایت خود را اعلام نمود.
این جرگه، بتاریخ ۳۰ / ۸ / ۱۳۹۲ به هدف بحث روی امضای سند امنیتی بین افغانستان و امریکا، با شرکت

(ص ۴)

مشورتي لویې جرګې هغه څه وکړل چې وړاندوینه یې کېده

جرګې له امریکا سره امنیتي - دفاعي تړون د افغانستان په ګټه وباله

کابل، رسني:
مشورتي لویې جرګې په خپل یودیرش ماده ییز پریکړه لیک کې له امریکا سره امنیتي سند د افغانستان په ګټه وباله او غوښتنه یې وکړه چې، ولسمشر حامد کرزی یې باید ژر تړژره لاسلیک کړي.
د افغان حکومت او امریکا ترمنځ د بحث وړ مسایل د جرم په صورت کې د امریکایي خواکونو محاکمه او د افغانانو د کورنو تلاشي وه.

(۴ مخ)

موقعیت نامزدان ریاست جمهوری در ورق رای دهی تعیین گردید

هدف از قرعه کشی برای تعیین موقعیت نام نامزدان؛ تامین شفافیت هرچه بیشتر در پروسهٔ انتخابات می باشد.

کابل، رسانه ها:
کمیسیون مستقل انتخابات؛ از طریق قرعه کشی، موقعیت نام نامزدان انتخابات ریاست جمهوری سال آینده را در ورق رای دهی تعیین نمود.
در نشستی که به همین منظور، بروز دوشنبه ۴ قوس از سوی کمیسیون مستقل انتخابات در کابل دایر گردیده بود، نمایندگان نامزدان و جامعه مدنی حضور داشتند.
به اساس اخذ قرعه از طرف نمایندگان نامزدان؛ لیست نامزدان ریاست جمهوری قرار ذیل ترتیب گردید. ...

(ص ۴)

ولسمشر حامد کرزی دې ژر امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کړي

کابل، رسنۍ:
که څه هم جمهور رییس حامد کرزي د مشورتي لویې جرګې په اختتامیه غونډه کې یوې خلې بیا وویل چې؛ له امریکا سره امنیتي تړون به له انتخاباتو وروسته لاسلیک شي؛ خو د ملي شورا یو شمیر غړي له لومړي سره مخالف دي.
د افغانستان د ولسي جرګې ځینې غړي له ولسمشر حامد کرزي څخه غواړي د مشورتي لویې جرګې پریکړو باید ته احترام ولري او هرڅومره چې ژر کېدای

(۴ مخ)

لودین صیب! ستا پر دعا زموږ امین دی

فدا محمد فایض



که چېرې مولوي عطاء الله لودین د دنیا د وروستیو نقشو له مخې جوړې شوې بنګلې نه لري؛ خو د خپل ولس په زړه کې ځای لري چې همدا افتخار یې بس دی.
په ۱۳۹۲/۸/۲٦ نېټه مولوي عطاء الله لودین د ننګرهار د نوي والي په توګه خپله دنده اشغال کړه، ما دهغه وینا د رسنیو له لارې واورېده او ومې لوسته، همدارنګه مې له بي بي سي راډیو سره دهغه په زړه پورې مرکه واورېده، هغه چې د ننګرهار ولایت ستونزو ته کومه اشاره وکړه نو زه پر دې ډاډه شوم چې هغه د ننګرهار موجودې ستونزې درک کړې دي او همدارنګه هغه چې له دې ستونزو سره د مبارزې کوم هوډ وکړ هغه هم د داد وړ و.

(دویم مخ)

د ننګرهار محترم نوي والي ته د مبارکۍ پیغام

د شهادت اونیزې اداره لومړی محترم مولوي صیب عطاء الله لودین ته د ننګرهار د والي پر ټاکل کېدو او د رسمي کارونو د پیل کولو مبارکي وایي او ددې ترڅنګ له لوی الله جل جلاله څخه په ډېره عاجزۍ دعا کوي چې مولوي صیب ته د ننګرهار مجاهد او شهیدپالونکي ولس ته د ښه خدمت کولو توفیق ورپه برخه کړي.
محترم مولوي صیب ته پخپله د یو دیني عالم او سیاسي شخصیت په توګه له بل هر چا نه زیاته معلومه ده چې د ولایت ونده ستر مسؤولیت لري. لدېنه وړاندې چې څومره والیان تېر شوي دي دهغوی په پرتله د ننګرهار ولس له مولوي صیب نه څو چنده هیلې لري چې د خپل امانت، دیانت او ښه احساس له مخې یو تاریخي او مثالي خدمت په ترسره کولو سره د شهیدانو، دهغوی وارثینو او له اسلام سره واقعي مینه لرونکو ننګرهاریانو هغه ارمانونه پوره کړي چې تراوسه لانه دي ترسره شوي او په عملي ډګر کې دا ثابته کړي چې د اسلام په دین کې دولتي چارواکي اصلا د خپل ولس خدمتګاران او خواخوږي وي، نه دا چې دهغوی د اوږو بار.
موږ بشپړ باور لرو چې محترم مولوي صیب به إن شاء الله تعالی خپل دغه مسؤولیت په ډېره شانداره ډول ترسره کولو سره د یوې ښې حکومتوالۍ مثالي او نه هېرېدونکې یادګار پرېږدي.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

لویۀ جرگه مشورتی با کوله بار مسؤولیت دینی، ملی و تاریخی

بالآخره روزی هم فرارسید و گذشت که برخی هوس فرارسیدن آنرا میخوردند و برخی از آن دلهره داشتند. این روز؛ روز تدویر لویه جرگۀ مشورتی به ارتباط تأیید یا رد پیمان امنیتی با ایالات متحدۀ امریکا بود.

با توجه به تاریخ گذشتۀ افغانستان، حکومات قبلی تا زمان وقوع حادثۀ نامقدس کودتای هفتم ثور ۱۳۵۷، بیطرفی مثبت و فعال کشور خود را حفظ کرده اند، حتی تا جایی که افغانستان در بین کشورهای غیر متعهد جایگاه خاص خود را داشت. افغانستان، اندونیزیا و یوگوسلاویای آن وقت در بوجود آوردن نهضت غیر متعهدها نقش خیلی فعال داشتند. افغانستان حتی در زمان جنگ جهانی اول و جنگ جهانی دوم باوجود از یکسو تطمیع ها و از سوی دیگر فشارهای سیاسی حاضر نشد از موقف خود انحراف ورزد.

متأسفانه کودتای هفت ثور کشور ما را از موقف قبلی آن منحرف ساخته در دامن شوروی کمونست انداخت که این اقدام حکومت کمونستی حزب دموکراتیک خلق، علاوه برآنکه برای کشور و ملت ما نتایج زیانبار، تلخ و زهرآگین داشت، در سیاست خارجی هم کشور ما را خیلی صدمه زده افغانستان بحیث کشوری شناخته شد که تصور میشد ممکن خیلی زود در صف اقمار شوروی قرار خواهد گرفت.

با آنکه در سال ۲۰۰۱ آمدن امریکا و ناتو و برخی از کشورهای بیرون از چوکات ناتو به افغانستان بنابه هر بهانه یی که بود برای کشور ما فال نیکی نبود؛ زیرا قوای خارجی هر کشور بنابه هر نام و بهانه یی که در یک کشور دیگر حضور داشته باشند، خواهی نخواهی حاکمیت ملی و استقلال سیاسی کشور میزبان تحت سوال میرود و حتی منافع ملی و تمامیت ارضی آن با مخاطره مواجه میشود؛ فلهذا افغانستان هم ازین امر مستثنی شمرده شده نمیتواند و هیچنوع توجیه درین رابطه قابل پذیرش نیست.

لویه جرگۀ مشورتی بتاریخ ۳۰ / ۸ / ۱۳۹۲ در کابل تدویر یافت؛ اما جریان آن برخلاف منافع و مصالح کشور ما به پیش رفت چنانچه خیلی از شرکت کنندگان بعد از ختم لویه جرگه بتاریخ ۳ / ۹ / ۱۳۹۲ در گفتگوها با رسانه ها تمام نقاط ضعف آنرا برشمردند؛ بحیث مثال:

۱- کمپاین به نفع امریکا از سوی رئیس و معاون و برخی دیگر از هیأت اداری لویه جرگه.

۲- فرصت ندادن به نظرات افرادی که پیمان امنیتی با امریکا را با عین شرایطی که شامل اجندا بود، مخالف مصالح علیای کشور میدانستند.

۳- بقول یک عده اشتراک کنندگان به مسخره گرفتن حتی ارزشهای عقیدتی ما از جمله جهاد مقدس ما ذر برابر شوروی از سوی یکعده اشتراک کنندگان و امثال آن.

این جرگه، اهمیت و ارزش جرگه را هم که یک عنعنۀ ملی مردم افغانستان است بباد مسخره گرفت، علاوتاً رئیس جمهور را آنقدر محکم گرفتند که باید این قرارداد را در فاصلۀ یک ماه امضا کند، در حالی که این جرگه یک جرگۀ مشورتی بود نه الزامی که باید از یخن رئیس جمهور محکم بگیرد که باید هر چه زودتر این پیمان را امضا کند در حالی که رئیس جمهور به تأمین صلح و قطع تلاشی خانه ها و حملات بالای خانه مردم و امثال آن اصرار داشت.

درینجا این شک تقویت بیشتر می یابد که چنین یک جرگه با چنین ترکیب و چنین جست و خیزها که همۀ ما شاهد آن بودیم، از قبل مهندسی شده بود؛ زیرا اعضای لویه جرگه همه انتصابی بودند نه انتخابی، پس به هیچوجه نمیتوانستند از ملت نمایندگی کنند. اگر جناب رئیس جمهور نیازی به مشورت داشت باید با افراد خبیر و آگاه مشورت میکرد، در حالی که در ترکیب این لویه جرگه افراد فاقد سواد هم دعوت شده بودند که آنها نه قادر بودند متنی را بخوانند که در دسترس اعضای جرگه قرار داده شد و نه هم صلاحیت ابراز نظر برآن را داشتند و نه هم میدانستند با توجه به دوازده سال گذشته که قوای خارجی در افغانستان حضور دارند، نفع و نقص این پیمان برای افغانستان چیست؟

بهمه حال آنچه صورت گرفت همه شاهد آن بودیم و تاریخ هم قضاوت خود را دارد، و خداوند (جل جلاله) که از همۀ نجواها باخبر است و با هر کس محاسبه میکند؛ ولی فراست مؤمنانه لازمۀ هر فرد مسلمان است.

لودين صيب! ستا پر دعا زموږ امين دی

فدا محمد فایض

ننګرهار د افغانستان له لومړۍ درجه ولايتونو نه دی، ننګرهار د تاريخ په اوږدو کې په هر ډګر - نظامي، سياسي، ادبي او نورو برخو کې داسې شخصيتونه افغاني ټولنې ته وړاندې کړي چې ټول هېواد ته يې ياد خدمتونه کړي دي، ان د انګريزانو له زمانې نه بيا د روسانو تر تجاوز پورې چې کله پر افغاني خاوره تجاوز شوی دی، ننګرهاريانو د خپل نور ولس ترڅنګ د خپل هېواد نره دفاع کړې ده؛ خو متأسفانه تاريخ خامخا لوړې ژورې لري، کله چې زموږ پر هېواد د کمونيزم سره سيلی راوالوته نو د ننګرهار غېږ يې هم لکه د هېواد نورې برخې تر ډېره د سر له سرېو تشه کړه؛ خو بيا هم لکه چې وايي د زمري کور بې له هغې نه وي، په ننګرهار کې داسې شاځلميان پيدا شول چې تر هر څا دمخه يې د بهرني تجاوز پر وړاندې د جهاد مورچل ته ورودانګل: شهيد ادم خان، شهيد زاهد ابراهيمي، شهيد استاد نادرخان، شهيد فضل حق مجاهد، شهيد انجنير ذبيح الله، شهيد مولوی احمد، شهيد معلم احمد، شهيد احمد هجرت، شهيد انجنير عبدالهادي، شهيد مولوي خدايدوست، شهيد استاد محمود زيرک او د دوی په څېر په لسګونو نور اتل قوماندانان او همدارنګه عمر يې ډېر شه مولوی عطاء الله لودين، ميرزا محمد نصرت او ګڼ شمېر نور قوماندانان چې لله الحمد لاتراوسه ژوندي دي، دا هغه شخصيتونه وو چې ننګرهار يې يو ځل بيا وځلاوه او دښمن ته يې دا وښوده چې دا د زمريانو کور او دا د بازانو ځاله بې ځوکه نه ده. البته ياد شخصيتونه هغه اتلان و چې د حزب اسلامي افغانستان تر قوماندې لاندې يې د جهاد سنګرونه تاوده ساتلي وو او که نه، ترڅنګ يې د نورو جهادي ګوندونو له هغې جملې د ارواښاد مولوي محمد يونس خالص د حزب اسلامي قوماندانان لکه شهيد مولوی سردار خان، شهيد خپنی، شهيد شيخ ملاخېبل، شهيد انجنير محمود، شهيد حافظ الحق، شهيد کوکی، شهيد ثواب شاه پاچا، شهيد سيد حبيب الله تور پاچا، مولوی عبدالشکور ياسيني، شهيد حاجی عبدالقدير او دغسې د حزب اسلامي هغه قوماندانان چې وروسته بيا له اتحاد اسلامي او محاذ ملي سره ملګرى شول لکه انجنير معراج الدين، شهيد محمد زمان عمشريک او ددوی په څېر نور قوماندانان چې ددې ليک پرمهال مې د ټولو نومونه په ذهن کې نه دي پاتې چې هيله ده دوستان به مې وبخښي.

ننګرهار د جهاد په دوران کې د نظامي مورچل ترڅنګ په سياسي او فرهنګي مورچل کې هم د ياد وړ شخصيتونه درلودل قاضي: محمد امين وقاد، مولوی محمد يونس خالص، حاجي دين محمد، انجنير عبيدالله، ډاکتر فضل محمد ابراهيمي او دوی ته ورته نور شخصيتونه، په فرهنګي مورچل کې يې هم هغه شخصيتونه درلودل چې تر دا ننه پورې يې د هېواد په کچه په قلم حساب کېږي؛ استاد محمد آصف صميم، استاد فضل ولي ناګار، استاد فضل مولا لټون، استاد سيد ګلاب سباوون او ددوی په څېر نور شخصيتونه.

ننګرهار ولايت د هېواد د دوهمه درجه ګمرک د درلودلو له لامله د هېواد يو عايداتي ولايت هم شمېرل کېږي.

متأسفانه د ننګرهار ددغومره ښېګړو سره سره هم د جهاد تر بريا وروسته د ننګرهار بيارغاونې ته هغسې توجه ونه شوه لکه څومره يې چې حق و، زه په دې اړه تر ډېره د ننګرهار، ننګرهاري واليان ګرم بولم، له ۲۰۰۱ نه راوروسته چې په هېواد کې وضع تر څه بريده بدله شوه او دې بدلون منفي او مثبت دواړه اړخونه درلودل؛ منفي اړخ يې هغه و چې د نړۍ د شاوخوا پنځوسو هېوادو پوځونه پرته له دې چې افغان ولس راغوښتې وي، افغانستان ته راغلل، دې حالت بې له شکه په يوه ډول نه يو ډول د اشغال بڼه غوره کړه؛ دغسې د ځپلسرو هوايي بريدونو او ځمکنيو تلاشيو په وجه زموږ ګڼ شمېر ننګرهاريان هم د هېواد د نورو ولاياتو د اوسېدونکو په څېر ځوک شهيدان شول او ځوک د زندانونو د تورو تمبو شاته وغورځول شول. له ۲۰۰۱ نه تر دا ننه پورې چې ۲۰۱۳ کال دی ننګرهار ته هغسې توجه ونه شوه لکه چې ورته لازمه وه، البته په ځانګړې توګه په تېرو نهو کالو کې د ننګرهار د بيارغاونې په اړه تبليغات ډېر وشول، په دې کې ډېرى هغو خبريالانو هم منفي رول ولوباوه چې يا يې د وېرې تعويذونه پر غاړه ګرځول او يا يې د تمې کچکولونه غاړې ته اچولي وو، دې حالت يقيناً چې ننګرهار د نهيلۍ پر درشل ودرولی وو.

بالاخره د لوی خدای په فضل سره پر ننګرهار د هيلو لمر راوخوت او داسې ځوک ورته د والي په توګه معرفي شو چې د علمي او جهادي شخصيت ترڅنګ يې له فساده پاک ژوند کړی دی چې زما هيله او دعا ده چې تر دې وروسته به هم خپل همدې فقيرانه؛ خو پتمن ژوند ته دوام ورکړي. موږ ګورو هغه چا چې د فساد له لارې پيسې پيدا کړې، ځمکې او جايدادونه يې واخستل، بنګلې او مارکيټونه يې جوړ کړل، ولس ورته د کرکې په سترګه ګوري او د تاريخ پر وړاندې محکوم دي او د آخرت پېړې خو يې لا نور هم مخونه تور کړي. د شاعر انسانيت حضرت عبدالرحمن بابا خبره:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ ددرست جهان پادشاه ظاهر ګدايم

که چېرې مولوي عطاء الله لودين د دنيا د وروستيو نقشو له مخې جوړې شوې بنګلې نه لري؛ خو د خپل ولس په زړه کې ځای لري چې همدا افتخار يې بس دی.

په ۱۳۹۲/۸/۲۶ نېټه مولوي عطاء الله لودين د ننګرهار د نوي والي په توګه خپله دنده اشغال کړه، ما دهغه وينا د رسنيو له لارې واورېده او ومې لوسته، همدارنګه مې له بي بي سي راډيو سره دهغه په زړه پورې مرکه واورېده، هغه چې د ننګرهار ولايت ستونزو ته کومه اشاره وکړه نو زه پر دې داده شوم چې هغه د ننګرهار موجودی ستونزې درک کړې دي او همدارنګه هغه چې له دې ستونزو سره د مبارزې کوم هوډ وکړ هغه هم د داد وړ و؛ خو زه مولوي صيب ته دهغه د يوه دوست او خواخوږي په توګه څو لنډ عرايض لرم:

۱- پښتانه وايي؛ چې خان يې په ياران يې، تر ټولو دمخه بايد هڅه وکړئ چې يو مخلص، مؤمن، متعهد او متخصص ټيم جوړ کړئ، ځکه که دا کار، ونه کړې نه به فساد له منځه وړلای شي او نه به د امنيت د تأمين په برخه کې لازم ګامونه اخستلای شئ. البته دا خبره درته زه د خپلې اداري تجربې په رڼا کې کوم، وايي که غر لوړ دی پر سر يې لار شته، که زموږ په اداراتو کې فساد اوج ته رسيدلی؛ نو د کابو کولو لارې يې هم شته؛ خو پر دغو لارو د ځان پوه کول په کار دي او د له منځه وړلو له پاره يې قاطع تصميم په کار دی.

۲- په ننګرهار کې اداري فساد خپل اوج ته رسيدلی دی، د بېلګې په توګه له ګمرک نه يې راپيل کړئ، بيا ښاروالۍ او بيا نورو اداراتو ته راشئ! ښايي د ننګرهار په ګمرک کې يو عادي مامور هم پيدا نه کړئ چې د يوې ښې بنګلې خاوند نه وي؛ شخصي موټرونه لري او د شتو خاوند نه وي دا يې ټولې د همدې ګمرک له لارې پيدا کړي دي چې بايد پوښتنه يې وشي.

۳- د ننګرهار له لارې ډېر قاچاق کېږي او په دې قاچاق کې د مرکز نه هم يو شمېر ځواکمن لاسونه شريک دي، دا هغه حقيقت دی چې ماته يې د ګمرک يو شمېر منسوبينو تکلونه کړي دي، دا لاسونه لنډول په کار دي.

۴- په ننګرهار کې د قومي مشرانو په کچه د تطميع ناروا فرهنګ دود شوی دی چې ننګرهار ولايت ته يې ډېر ګوزارونه ورکړي دي، هيله ده ستاسې په تګ سره ددې فرهنګ نيلې غوڅې کړای شي.

۵- د ننګرهار ملي وحدت تر ډېره پورې زيان ليدلی دی، تاسې د يوه داسې شخصيت په حيث چې د خپل ولايت خلک او مشران ښه پيژنئ او هغوی تاسې پيژني، بايد دا زيانيدلی ملي وحدت بېرته کوشير کړئ.

۶- په دولتي کچه په ننګرهار کې فرهنګي فعاليتونه تقريباً په ټپه ولاړ دي، هيله ده تاسې د فرهنګ په مړه پړه (جسد) کې نوې ساه وپوکئ.

۷- په ننګرهار کې د معارف فعاليتونه هم لږه پوښتنه غواړي، په ځانګړې توګه هغه ښوونځي چې له مرکز نه لږه فاصله لري.

۸- د بيارغاونې په برخه کې به ټول ننګرهاريان ستاسې فعاليتونو ته سترګې پر لار وي، هيله ده د ننګرهار د بيارغاونې هغه درواغجن بتان مات کړئ چې له درواغجنو تبليغاتو وراخوا نور هېڅ هم نه دي.

۹- داسې مشاورين ځانته وټاکئ چې هغه حقيقتاً هم د مشورې وړ وي او تاسې ته په هره برخه کې ښې مشورې درکړای شي.

۱۰- د ننګرهار امنيتي حالت لکه چې تاسې پخپلو خبرو کې هم ورته اشاره وکړه ډېر خراب شوی، هيله ده لومړی هغه عوامل پيدا کړئ چې امنيت يې خراب کړی او بيا د امنيت د تأمين په برخه کې عملي ګامونه واخلئ.

۱۱- او په پای کې دا چې ننګرهار ستاسې کور دی، د کور و کلي د خلکو به هم درنه ډېرې غوښتنې وي او د حزبي ورونو هم؛ خو ستاسې کاميابي به په دې کې وي چې د قانون لمنه راټينګه کړئ او د قانون د حاکميت په برخه کې کار وکړئ.

فرمایشات لویه جرگهٔ مشورتی و فردای زیانبار افغانستان

فایض

حوادث خونبار کنونی افغانستان، پیوند ناگسستنی با گذشتهٔ کشور دارد. کشور ما سالها شاهد حوادثی بود که پیشبینی میشد که بالآخره این حوادث، کشور را به آغوش طوفانها خواهد سپرد، بخصوص دههٔ دموکراسی (۵۲ - ۱۳۴۳) و به تحلیل رفتن نظام دولتی شاهد آن بود که دیگر یک انارشی بی سرو پا به استقبال کشور دقیقه شماری میکند. جمهوری داوودخان هم گرچه با یک دکتاتوری آغاز شد (۱۳۵۲)؛ ولی این زمان با زمان صدارت عظمای داوود خان تفاوت فراوان داشت داوودخان برای اداره و کنترول کشور، نسخهٔ جدیدی نزد خود نداشت و از سوی دیگر همراهان کودتاچی او کسانی بودند که از مسکو هدایت میگرفتند، بناءً داوودخان خیلی زود در چنگال کا جی بی قرار گرفت، زمانی که فهمید اشتباه کرده است و میخواست دست به یکنوع تصفیه بزند، قبل از آنکه دیگران را تصفیه کند، خود مورد تصفیهٔ افراد و قوتهای مورد نظر قرار گرفت.

کودتای ثور ۱۳۵۷ کشور را به آغوش طوفانی سپرد که انجام آن معلوم نبود و دوره های بعدی دستخوش مداخلات و توطیه های بیرونی گردید. شکست روسها بدست مجاهدین قهرمان افغانستان جهان را یک قطبی ساخت و به امریکا مجال داد تا چشم به تمام براعظم آسیا بدوزد. افغانستان بحیث قلب آسیا و یک کشوری که شکار هرج و مرج شده بود، برای امریکا مجال بیشتر داد تا زمینه را برای لشکرکشی به آن تدارک بیند، حوادث یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ که هنوز مورد بحث است که از سوی چه کسی صورت گرفت، بهانهٔ خوبی بدست امریکا و ناتو داد تا به نام مقابله با تروریزم به افغانستان لشکرکشی کند. القاعده که متهم به اجرای عملیات یازدهم سپتامبر شد و رهبری آن در افغانستان بسر می برد، فرصت مغتنمی بدست امریکا داد تا به افغانستان بیاید.

دوازده سال شد که امریکا و ناتو در افغانستان مقیم اند و هکذا کشور دیگری که در پیمان ناتو شامل نیستند؛ ولی با امریکا روابط تنگاتنگ دارند، نیز به افغانستان قوت نظامی فرستادند. آنچه در آغاز آمدن این قوتها ادعا میشد افغانستان از آن حالت رهایی نیافت: جنگ خاموش شده دوباره آغاز و با گذشت هر روز تشدید گردید، بازسازی لازم صورت گرفته نتوانست، اقتصاد افغانستان به پا نه ایستاد. بندها اعمار نگردید، زراعت به قدر ضرورت سرو سامان نیافت، مشکلات صحی به همان حالت زارش ادامه دارد و دهها مشکل دیگر.

خوب البته افغانستان بخاطر نجات از وضع کنونی با یکعده کشورها پیمان استراتیژیک امضا کرد، از جمله با امریکا، ولی امریکا خواهان آن شد تا افغانستان طی امضای یک پیمان امنیتی زمینهٔ حضور کم از کم ده سال دیگر را نیز برای نیروهای امریکا درین کشور فراهم کند.

بعد از گو مگوهای زیاد بالآخره دولت افغانستان یک لویه جرگهٔ مشورتی را فرا خواند. این جرگه بتاریخ ۳۰ / ۸ / ۱۳۹۲ تدویر یافت؛ ولی آنچنان که از جریان جرگه معلوم شد بجز از افراد معدودی که متأسفانه نه برایشان فرصت اظهار نظر لازمی داده شد و نه هم به نظرات شان وقعی گذاشته شد، متباقی همه و همه به نفع قرارداد با امریکا نظر دادند و خود برای آن کمپاین کردند. بخصوص رهبری جرگه و هیأت اداری که این واقعاً جای تأسف است؛ باید گذاشته میشد اعضای لویه جرگه آزادانه اظهار نظر کنند.

البته قراردادها بین کشورها صورت میگیرد؛ ولی هر کشور در روشنی ارزشها و منافع کشور خود قدم برمیدارد. من نمیدانم که یک عده افغانها چرا تا این حد از خود بیگانه گشته اند که منافع کشورهای بیگانه را بر منافع کشور خود مقدم می شمارند.

لویه جرگهٔ مشورتی که بتاریخ ۳ قوس پایان یافت، علاوه برآنکه منافع کشور خود را کاملاً نادیده گرفت، پا از حدود صلاحیت قانونی خود هم فرا گذاشت؛ زیرا این جرگه یک جرگه انتصابی مشورتی بود، نه اینکه صلاحیت کدام فیصله را داشته باشد یا فیصلهٔ آنها الزام آور باشد، بناءً آنچنان که پیشبینی میشد و آنچنان که از جریان جرگه فهمیده میشد چنان وانمود می شد که همه چیز مهندسی شده بود و آنان که یا روابط تنگاتنگ با امریکا داشتند یا تطمیع شدند و یا اینکه زیر تأثیر تبلیغات قرار گرفته تیشه بر ریشهٔ ملت و منافع علیای کشور زدند که این حرکت شان بهیچوجه قابل بخشش نیست و محکوم تاریخ خواهند بود؛ اما هنوز قرارداد امضا نشده، بدون شک که این جرگه رئیس جمهور را تحت فشار مضاعف سیاسی از سوی امریکا قرار خواهد داد؛ ولی هنوز هم این قرارداد امضا نشده و باید رئیس جمهور درین رابطه خیلی محتاط باشد و منافع علیای کشور را درنظر بگیرد.

امضای پیمان امنیتی بدون شک افغانستان را وارد یک مرحلهٔ جدید از حیات سیاسی، اقتصادی و امنیتی خواهد کرد:

اولاً امنیتی: مخالفین مسلحی که در برابر دولت می جنگند ادعای آنها این است که در برابر حضور نیروهای خارجی می جنگند و مخالفتی هم که در برابر دولت نشان میدهند بخاطری که میگویند که این دولت از حمایت نیروهای خارجی بهرمند است و در حقیقت دولت هم حامی حضور نیروهای خارجی در کشور است، پس حالا که اگر قرارداد امنیتی با امریکا برای ده سال آینده امضا میشود در حقیقت جنگ کم از کم برای ده سال آینده تضمین گردید؛ زیرا بهانهٔ جنگ برای ده سال آینده تضمین میگردد. از سوی دیگر کشورهای همسایه بهانهٔ خوبی برای مداخله در امور داخلی افغانستان بدست می آورند که این مداخلات اظهر من الشمس است و ضرورت به پنهان کردن آن ندارد. علاوه بر اضرار، افغانستان چه نفعی بدست میآورد، در حالی که جنگ ادامه یابد، تلاشی خانه ها، راه بستن ها و حملات شبانه ادامه داشته باشد، افغانستان در برابر تجاوزات کشورهای همسایه حمایه نشود. بدون شک حضور امریکا برای ده سال آینده یک بها میخواهد و این بها را ملت مظلوم و جنگزدهٔ افغانستان خواهد پرداخت؛ چنانچه در آستانهٔ لویه جرگه مشورتی ده ها تن از افراد ملکی به خاک و خون کشانده شد، نمیدانیم آنها چه جرمی را مرتکب شده بودند؟ این حالت با کمال تأسف میگویم که ادامه خواهد یافت و هیچ تضمینی وجود ندارد که ادامه نه یابد.

از ساحهٔ سیاسی هم افغانستان مورد ظن بیشتر کشورهای همسایه و منطقه قرار خواهد گرفت و این بدگمانیها بدون شک بر روابط سیاسی این کشورها با افغانستان اثرات منفی خود را می گذارد. ما هم اکنون در حدود دو میلیون مهاجر در ایران داریم و ایران کشوری است که علناً موافق با امضای این توافقنامه نیست هکذا کشورهای دیگر منطقه که اگر علناً صدای مخالفت بلند نمیکنند ولی در پس پرده حتماً با دولت افغانستان نگرانیهای خود ازین بابت را مطرح کرده اند از جمله پاکستان که باری افراد بلندپایهٔ ملکی و نظامی یکجا به کابل آمدند و تشویش های خود را با دولت افغانستان مطرح کردند و ضمناً پیشنهادهای تشویقی هم باخود داشتند. فلهذا اگر ما هر قدرهم این خطرات را نادیده بگیریم، نادیده گرفته شده نمی تواند. پاکستان کشوری است که بیشترین تعداد مهاجرین‌افغان درآن زندگی میکند. در صورتی که بی اعتمادی در بین آمد، طبیعی است که بر روابط اقتصادی، فرهنگی وغیره هم اثرات منفی خود را برجا میگذارد، ولی امریکا با این پیمان هرگز آماده نیست خلای پیش آمده ازین بابت را پر کند. ما بپذیریم یا نه پذیریم ولی کشورهای همسایه و منطقه از حضور درازمدت امریکا در افغانستان دلهره دارند، چون زور شان به امریکا نمیرسد، فلهذا خواهی نخواهی از افغانستان ضعیف و بیچاره انتقام میکشند و مسؤولیت آن بر دوش کسانی خواهد بود که آب را نادیده، موزه را از پا کشیدند. این خوشباوریهای خشک و خالی راه بجایی نمیبرد، بلکه جهان را باید با دیده باز نگریست، و بعد از آن تصمیم گرفت.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سياسي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب نظر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

رییس جمهور برای امضای ...

۲۵۰۰ تن در کابل آغاز گردیده و بعد از ظهر یکشنبه ۳ قوس به پایان رسید.

حامد کرزی، در سخنرانی اختتامیه خود در جلسه عمومی لویه جرگهٔ مشورتی گفت که عساکر امریکایی، سر از همین لحظه در خانه های افغانها حمله نکرده و تلاشی کرده نمی توانند، سر از امروز حملات عساکر امریکایی به خانه ها پایان یافته است.

وی هشدار داد که اگر چنین حملات خودسرانه و تلاشی خانه ها توقف نیابد و باز تکرار شود، هیچگونه قراردادی وجود نخواهد داشت و قرارداد فسخ خواهد شد.

حامد کرزی، یکی از شرایط دیگر امضای سند امنیتی با امریکا را تامین صلح در کشور خوانده، گفت که اگر صلح تامین نشود، قرارداد هم امضا نخواهد شد.

وی افزود: "صلح، اول در دست امریکا و بعد به دست پاکستان است و یک عالم، دلیل اثبات دارم."

در خلال سخنان وی، یک زن اشتراک کننده، میخواست نظرش را در مورد مداخلات ایران و پاکستان ابراز کند؛ اما حامد کرزی گفت که حالا میخواهند در مورد صلح سخن بگویند؛ بعداً چاره ایران و پاکستان را میکنند، فعلاً چارهٔ امریکا را باید کرد.

وی علاوه نمود: "ما امنیت و صلح را سر از امروز میخواهیم؛ وقتی ما پایگاه میدهیم، امنیت و صلح شرط اول ما است."

یک شرکت کنندهٔ دیگر، با ابراز نارضایتی پرسید که چرا جنگ در کشور خاتمه نمی یابد و چرا کلوخ را در آب مانده، گذر میشود؟

حامد کرزی در پاسخ گفت: "هدف ما همین است و نباید کلوخ را در آب مانده و بگذریم."

در خلال سخنان حامد کرزی، یکتن دیگر میخواست که از جمع شرکت کنندگان صحبت کند؛ اما مانع آن شدند.

اما حامد کرزی با ذکر اینکه آزادی بیان است و هر کس حق دارد که ابراز نظر کند، گفت: "اگر شما در کمیته های جرگهٔ مشورتی، به کسی اجازهٔ نظر دادن را نداده باشید، قطعنامهٔ شما یک قطعنامه قلابی است."

وی شرط سومی را برای امضای سند امنیتی، برگزاری انتخابات بدون مداخله و در وقت معین آن، عنوان کرد و افزود که امریکا باید تعهد کند که اگر انتخابات به روند دوم میرود، انتخابات باید طبق قانون، دوهفته بعد از نتایج آن، بین دو نامزد صورت بگیرد؛ تا معاملات بند شود و تجارت انتخابات گذشته تکرار نگردد.

کرزی گفت که باید اطمینان حاصل شود که امریکا چنین تضمینی می دهد؛ بخاطریکه اگر صلح نیاید و انتخابات نشود، افغانستان با چالش های زیاد مواجه میگردد.

وی در پاسخ به خواست اعضای جرگهٔ مشورتی گفت: "شما میگین که سند امنیتی، در ظرف یکماه باید امضا شود؛ آیا صلح در یکماه می آید؟ اگر صلح نیاید، ملامت کی است؟ ما این را از روی مجبوریت امضا کردیم تا امنیت و صلح بیاید، و گر نه غیرت ما قبول نمیکنه؛ اما مجبور هستیم."

بعداً حضرت صبغت الله مجددی رییس جرگهٔ مشورتی، از امضای سند امنیتی حمایت کرده، گفت که رییس جمهور، همیشه به حرفهای وی گوش داده و قناعت نموده؛ اما عمل نکرده است؛ اگر به سخنان وی عمل میکردند، این مشکلات امروز نمی بود.

وی علاوه کرد: چیزهایی که رییس صاحب گفت، اکثر آن معقول بوده و حق به جانب است و باید امریکایی ها از همین نظریات که به خیر دو کشور است، تجاوز نکنند.

مجددی گفت که اگر سند امضا می شود و بعد از امضا، امریکایی ها از آن تخلف میکنند، این ملت مسلمان افغانستان مُرده نیست، زنده است و با دست خالی مقابله میکند.

رییس جرگهٔ مشورتی افزود که امروز، یک ابرقدرت از سند منصرف شده نمی تواند و حامد کرزی وعده بدهد که سند را به زودی امضا میکند.

وی گفت: "اگر رییس صاحب سند را امضا نمی کند، من به شما وعده میدهم که استعفا میکنم و مهاجرت میکنم، از وطن بیرون میشوم و میگویم که از سیاست غلط حکومت، اینجا هستم."

دراین اثنا حامد کرزی در کنار حضرت مجددی که در مکروفون صحبت میکرد، آمده گفت: "تکرار میکنم که بعد ازین، امریکایی ها به خانه های ما رفته نمی توانند، کسی را کشته نمی توانند و مردم افغانستان در خانه های خود در امن میباشند."

وی افزود که چنین شده نمی تواند که امریکایی ها در قرارگاه های خود بنشینند و در کشور جنگ باشد.

کرزی گفت: "این را نمی پذیریم و فیصلهٔ من همین است."

اما حضرت مجددی گفت: چیزی را که رییس صاحب میگوید، درست است که امریکا حق ندارد که به خانه های افغانها برود و وعده داده و نوشتهٔ تحریری داده، که یک ابرقدرت با وعدهٔ خود مخالفت نمی کند؛ اگر بکند، افغانها حاضراند که مظاهرات جنگی کنند.

اما حامد کرزی گفت: "مظاهره نه؛ قطع قرارداد."

مجددی گفت که رییس صاحب، اول سند را امضا کنید، بعداً اگر امریکا تخلف کرد، در مقابلش می ایستند؛ اما حامد کرزی بر موضعگیری خود تاکید نمود.

مشورتي لویې جرګې هغه څه ...

امریکا ټینګار کوي چې که یې کوم عسکر جرم کوي باید په امریکا کې محاکمه شي او غواړي چې په استثنايي حالاتو کې د افغانانو کورونه تلاشي کړي.

خو لویې جرګې په خپل پریکړه لیک کې ویلي، هغه باید وشي چې د جرم په صورت کې په افغانستان کې د امریکایي عسکرو محاکمه کیدو زمینه برابره شي.

د لویې جرګې په پریکړه لیک کې د ځینو نورو مسایلو ترڅنګ دا هم راغلي چې؛ له اضطراري حالاتو پرته د افغانانو د کورونو تلاشي هم هیڅ جواز نه لري.

د لویې جرګې د جوړیدو کمیسیون د دارالانشا مرستیال نجیب امین د دې پریکړه لیک یوه برخه داسې ولوسته:

"د امریکایي ځواکونو د هغه پروسونل د محاکمې په اړه چې په افغانستان کې جرم کوي؛ د هغوی د تحقیق او محکمې په جریان کې د افغان څارونکو شتون حتمي دی؛ امریکا دې د افغان څارونکو د شتون مساله آسانه او تمویل کړي.

د عملیاتو پرمخ وړل او د کورونو تلاشي پرته له سملاسي حالاتو څخه جواز نه لري."

په پریکړه لیک کې د افغان ځواکونو پوره تجهیز ته هم اشاره شوې وه او له امریکا څخه غوښتل شوي؛ که کوم هیواد په افغانستان حمله کوي؛ امریکایان باید د افغانانو ترڅنګ ودریږي.

په دې پریکړه لیک کې همدا راز راغلي چې امریکا به د افغانستان له خاورې څخه په بل کوم هیواد حمله نه کوي او دغه سند تر ۲۰۲۴ کال پورې د اعتبار وړ دی.

موقعیت نامزدان ریاست جمهوری ...

۱- داکتر عبدالله عبدالله
۲- داوود سلطان زوی
۳- عبدالرحیم وردک
۴- عبدالقیوم کرزی
۵- داکتر محمد اشرف غنی احمدزی
۶- سردار محمد نادر نعیم
۷- داکتر زلمی رسول
۸- انجنیر قطب الدین هلال
۹- محمد شفیق گل آغا شیرزی
۱۰- استاد عبدالرب رسول سیاف
۱۱- هدایت امین ارسلا

احمد یوسف نورستانی رییس کمیسیون مستقل انتخابات، در نشست دیروزی (۳ قوس) گفت که هدف از قرعه کشی برای تعیین موقعیت نام نامزدان؛ تامین شفافیت هرچه بیشتر در پروسهٔ انتخابات می باشد.

نورستانی افزود: "در حضور رسانه ها، جامعه مدنی، نمایندگان کاندیداها، این پروسه را بخاطر شفافیت دایر کرده ایم. نام و عکس شان (نامزدان) چاپ می شود که اول، دوم و سوم معلوم شود، تا مردم بشناسند که [نامزد مورد نظر شان] در کدام نمره هستند."

نورمحمد نور سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات گفت که قرار است بر اساس قرعه کشی، نام نامزدان شوراهای ولایتی نیز، در ورق رای دهی تعیین موقعیت گردد.

نور، با ذکر اینکه نام نامزدان ریاست جمهوری دریک ورق رای دهی جا داده میشود، افزود که نام نامزدان شوراهای ولایتی، از سوی کمیسیون تعیین موقعیت می شوند.

این درحالیست که درانتخابات ریاست جمهوری گذشته، چندین ورق برای درج نامهای نامزدان به کار رفته بود که رای دهندگان، برای تشخیص فرد مورد نظر دچارمشکل شده بودند.

به اساس معلومات موصوف، تعداد نامزدان شوراهای ولایتی، به ۲۷۱۳ نفر می رسد که ۳۰۸ آنرا خانم ها تشکیل می دهد.

فهرست نهایی نامزدان ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی، هفتهٔ گذشته (۲۸عقرب) از سوی کمیسیون مستقل انتخابات اعلام گردید.

قرار است که انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی، بتاریخ ۱۶ حمل سال آینده برگزار شود.

رییس کمیسیون مستقل انتخابات، در گفتگو با خبرنگاران خاطرنشان ساخت در صورتی که انتخابات ریاست جمهوری به دور دوم برود، آنان آمادگی کامل دارند که آنرا طبق قانون، طی دو هفته برگزار نمایند.

ولسمشر حامد کرزی دې ژر امنیتي ...

شي له امریکا سره امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کړي.

په دې اړه د ولسي جرګې دوو تنو غړیو نیسمې نیازي او خالد پښتون د دوشنبې په ورځ ازادی راډیو ته وویل چې؛ د امنیتي تړون په لاسلیک کې باید ځنډ رانه شي او ژر دې ولاسلیک شي؛

"۱ - زما په نظر ولسمشر باید په دې کې ځنډ رانه ولي او په انتخاباتو پورې یې ونه تړي باید ژر تر ژره لاسلیک کړي؛ زما په اند که لاسلیک یې نه کړي امریکا به په دې کې ځنډ ونه مني او هغه مشکلات چې بیا وروسته پیدا شي زه فکر نه کوم چې هغه مشکلات به بیا دافغانستان په ګټه وي.

۲- له ولسمشر نه صمیمانه غوښتنه دا ده د دونیم زور کسانو غونډه چې د ده په غوښتنه، په وړاندیز او ابتکار جوړه شوې وه او هم یې پرې ټینګار کاو د هغې پریکړې ته په احترام قایل شي."

له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه څلور ورځنۍ مشورتي لویه جرګه تېره ورځ ختمه شوه چې؛ شاوخوا دوه نیم زرو کسانو په کې ګډون کړی و.

یادې جرګې له امریکا سره امنیتي تړون تایید کړ؛ خو په هغې کې یې د ځینو تعدیلاتو غوښتنه هم وکړه.

جمهور رییس کرزی ویلي، امریکا دې په افغانستان کې سوله او شفاف انتخابات تضمین کړي بیا به دا تړون ورسره لاسلیک شي.

بل خوا د ولسي جرګې دویم مرستیال صالح محمد سلجوقي وایي؛ هر تړون باید لومړی د دواړو خواوو ترمنځ لاسلیک شي؛ بیا د تصویب لپاره ملي شورا ته ځي.

هغه وویل، تر څو چې دا تړون لاسلیک نه شي، ملي شورا پرې بحث نه شي کولای.

بل خوا د مشرانو جرګې مرستیال محمد علم ایزدیار په دې باور دی چې؛ په ملي شورا کې دې تړون ته ملاتړ روحیه موجوده ده:

"د مشرانو جرګې یو شمیر غړو هم د لویې جرګې غړیتوب درلوده؛ خپلې مشورې یې مخکې له مخکې ورکړې. خو اصلي صلاحیتونه یې هغه وخت کارول کیږي چې؛ کله یې ته شورا ته راشي هغه وخت به قضاوت کوو؛ خو زما په نظر ډېر مخالفت موجود نه دی؛ د افغانستان د ملي ګټو په چوکاټ کې د اسلام مقدس دین د احکامو په پام کې نیولو سره به خپله پریکړه وکړو."

د افغانستان او امریکا حکومتونه له شاوخوا یو نیم کال چنو او مذاکراتو وروسته د دواړو هیوادونو ترمنځ د امنیتي تړون پر مسودې موافقې ته ورسیدل.

خو د دې تړون د لاسلیک کیدو د وخت ټاکل د یوې لانجمنې مسالې په توګه پاتې ده. امریکایي چارواکو ویلي چې؛ دا تړون باید د روان میلادي کال تر پایه لاسلیک شي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د حامد کرزي د وروستي څرګندونو په اړه د لویدیځو ورځپاڼو تبصرې

کابل، رسانه ها:

ګڼو لویدیځو ورځپاڼو په مشورتي لویه جرګه کې د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي قرارداد د مسودې د تایید او د ولسمشر کرزي د هغو څرګندونو په اړه لیکنې خپرې کړي چې؛ وایي، د دې سند تر لاسلیک دمخه باید امریکا د امنیت او په انتخاباتو کې د نه لاسوهنې تضمین ورکړي.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼه په دې اړه په یوه لیکنه کې لیکي:

د یکشنبې په ورځ لویې جرګې له ولسمشر حامد کرزي وغوښتل چې؛ د امریکا له متحدو ایالتونو سره امنیتي تړون لاسلیک کړي؛ خو د افغان ولسمشر دې خبرو چې ویل یې، غواړي په دې اړه له متحدو ایالتونو سره خبرو اترو ته دوام ورکړي؛ د افغانستان او امریکا تر منځ راتلونکې اړیکې له بې باوري سره مخ کړې دي.

ورځپاڼه لویې جرګې کې د ولسمشر کرزي هغه څرګندونو ته اشار کوي چې؛ د خپلې وینا په پای کې یې د جرګې ګډونوالو ته وویل: "موږ ستاسو په استازیتوب له امریکا سره دا قرارداد سموو او هم ورسره چنو وهلو ته دوام ورکوو."

نیویارک ټایمز د ولسمشر کرزي هغه خبره هم راخیستې چې د جرګې له غړیو یې وغوښتل چې ده ته دې د سیاست کولو چانس ورکړي څو دا قرارداد مفت امریکا ترلاسه نه کړي. ورځپاڼه د ولسمشر کرزي له خولې وایي، کله چې موږ مطمین شو چې، افغانستان د سولې په لاره روان دی او نوی ولسمشر لري نو بیا به یې لاسلیک کړو.

ورځپاڼه د امریکایي چارواکو له خولې وایي چې؛ که چیرې د روان میلادي کال تر پای پورې د کابل او واشینګټن ترمنځ دا امنیتي قرارداد لاسلیک نه شي؛ له ۲۰۱۴م کال وروسته به په افغانستان کې د د پاتې کېدونکو سرتیرو د پلانولو لپاره کافي وخت ونه لري.

نیویارک ټایمز وړاندې لیکي، د جمعې په ورځ د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر جان کري په اوږدو تیلفوني خبرو کې ولسمشر کرزي ته خبرداری ورکړ چې؛ که چیرې په یوه میاشت کې دا قرارداد لاسلیک نه شي؛ نو بیا دې له امریکا سره د داسې یو قرارداد د لاسلیک تمه نه کوي.

د لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې هم په یوه لیکنه کې د مشورتي لویې جرګې په وروستي ورځ د ولسمشر حامد کرزي او د جرګې د رییس صبغت الله مجددي ترمنځ شوي بحث ته اشاره کړې.

ورځپاڼه وایي، کله چې ولسمشر کرزي یو وارې بیا ټینګار وکړ چې؛ د امریکا سره د دې قرارداد لاسلیک تر راتلونکې پسرلي ځنډوي؛ د جرګې سپین ږیري مشر صبغت الله مجددي ورته وویل چې؛ محاسبه یې سمه نه ده.

لاس انجلس ټایمز وایي، صبغت الله مجددي ولسمشر کرزي ته لاربښونه وکړه او خبرداری یې ورکړ چې، که چیرې د دې تړون لاسلیک کول ځنډوي نوله ټولو کارونو به استعفا وکړي او هیواد به پریږدي؛

د انډین ایکسپریس په نوم هندوستانی ورځپاڼې هم همدا موضوع څیړلې ده او په یوه لیکنه کې وایي؛ د لویې جرګې له تصویب وروسته هم د ولسمشر کرزي له څرګندونو داسې ښکاریده چې نوموړی په خپل بخواني دریځ چې غواړي دا سند دې د ولسمشرۍ له راتلونکو انتخاباتو وروسته لاسلیک شي ولاړ دی.

ورځپاڼه وایي، په خپله وینا کې، کرزي ومنله چې، د ده او امریکا چارواکو ترمنځ باور کم شوی او په خپله اختتامیه وینا کې یې بیا هم پر واشینګټن انتقادونه وکړل.

د انډین ایکسپریس د مقالې لیکوال د خپلې لیکنې په پای کې د منتقدینو له خولې وایي؛ ولسمشر کرزي د دې سند د لاسلیک په ځنډولو سره غواړي چې؛ د امریکا له متحدو ایالتونو سره له هر ډول معاملې خپل ځان لرې وساتي.